2014/05/09

# د ای.اس.بی.ال ESBL جوړوونکی باکتریاوی، د ناروغانو لپاره معلومات

د عفونت نه د ساتنی د ډاکتر د عفونت نه د ساتنی پاڼه

**د ای.اس.بی.ال څه شی ده؟**

ای.اس.بی.ال د ”exended spectrum betalactamases“ معنی لری. دا مادی (اینزیم) دی چه د کولمو باکتریاوی یی تولیدوی. دا مادی عادی انتی بیوتیک لکه پینسیلین تجزیه کوی. او په دی توګه د ای.اس.بی.ال تولیدونکی باکتریاوی د انتی بیوتیک په مقابل کی د مقاومت قدرت ترلاسه کوی. **مګر** که دوی عفونت منځ ته راوړی، کیدای شی چه د نورو انتی بیوتیک په وسیله د ناروغ درملنه وشی. ټول خلک په کولمو کی باکتریاوی لری، په اصطلاح د کولمو عادی ژوندی چاپیریال. دا د خوراکی موادو د تجزیی او د بدن د دفاعی سیستم لپاره مهمه ده. د ای.اس.بی.ال تولیدونکی باکتریاوی د کولمو داسی باکتریاوی دی چه په کولمو کی د لنډی یا زیاتی مودی په بهیر کی موجودی وی.

**آیا ای.اس.بی.ال کوم خطر لری؟**

د انتی بیوتیک په مقابل کی د مقاومت لرونکو باکتریواو لخوا تر ټولو نه زیات خطر دا دی چه د عفونت په صورت کی لازم انتیوبیوتیک تر لاسه نه شی. د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوو د لرونکو زیاته برخه دا باکتریاوی په خپلو کولمو کی لری بیله دی نه چه دوی ناروغه وی، په اصطلاح **وړل**. د باکتریاوو لرل کومه ناروغی نه ده او تداوی ته اړتیا نلری. د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوی د نورو باکتریاوو په مقایسه د ناروغیو زیات سبب نه ګرزی. که چیری د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوی د کومی ناروغی سبب وی، نو په زیاتو حالاتو کی دا کیدای شی د ادرار د کانالونو عفونت وی، مګر کیدای شی بل ډول عفونتونه هم وی. توپیر یی دا دی چه د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوو د عفونت په صورت کی باید د نورو ډولو انتی بیوتیک په وسیله درملنه تر سره شی. کله کله درملنه په روغتون کی ترسره کیږی د دی په ځای چه سړی په کور کی ګولی وخوری.

**د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوو څرنګه خپریږی؟**

د دی لپاره چه سړی د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوو لرونکی شی باید باکتریاوی د خولی له لاری بدن ته داخلی شی. سړی کیدای شی د خوراک او اوبو په وسیله چه د کولمو باکتریاوی لری، په سرایت اخته شی، په خاصه توګه بهر ته د سفر په وخت کی. همدا راز باکتریاوی د تشناب نه وروسته د لاسو په وسیله هم بدن ته داخلیږی. په روغتیایی موسسو کی دا باکتریاوی د زخم یا کاتیتر څخه د یووه ناروغ نه بل ناروغ ته د لاسو د لاری سرایت کوی.

**آیا امکان لری چه ای.اس.بی.ال د بدن نه ورکی شی؟**

څرنګه چه د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوی د کولمو د چاپیریال یوه عاده برخه وی نو کیدای شی چه دوی په بدن کی د ډیری مودی لپاره پاتی شی (میاشتی- کالونه). سړی نه شی ویلای چه ستا په بدن کی دا باکتریاوی په څومره موده کی موجودی دی، مګر د زیاتی برخی کسانو د بدن نه باکتریاوی وروسته ورکیږی. د غایطه موادو زیاتی معاینی ته اړتیا نشته.

**ته باید کومو شیانو ته پاملرنه وکړی؟**

- د لاسونو حفظ الصحه لکه تل مهمه ده. د تشناب نه وروسته او د ډوډی خوړلو/ پخلی نه د مخه لاسونه په صابون او اوبو مینځه. ښه به وی چه تل د مایع صابون نه استفاده وکړی.
- ته مجبور نه یی چه په خپل چاپیریال کی خلکو ته ووایی چه ته د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوی لری.
- ته کولای شی په عادی توګه ژوند وکړی او د نورو کسانو سره تګ راتګ ولری. همدا راز ته کولای شی په عادی توګه جنسی اړیکی ترسره کړی.
- که ته کوم زخم، د ادرار کتیتر یا استوما (سوری) لری نو دا زیاته مهمه ده چه له بدلولو پانسمان نه وروسته لاسونه ومینځی. ته باید په حوض/ وان کی د لامبو په ځای شاور یا دوش وکړی. که ته په اسهال اخته یی یا د غایطی مواده بهیدل لری نو ته باید په حوض/ وان کی د لامبو په ځای شاور یا دوش وکړی.
- که چیری ته باید د انتیبیوتیک په وسیله تداوی شی نو دا ډیره مهمه ده چه تا ته مناسب انتی بیوتیک درکړل شی او د باکتریاوو د کرنی معاینه ترسره شی. د ستا د فایدی په خاطر ستا نه دا هیله کیږی چه خپل ډاکتر/ د غاښو ډاکتر ته د خپلو باکتریاوو د لرنی/ پخوانیو عفونتونو په هکله معلومات ورکړی.
- که ته په روغتون کی بستر شی یا باید جراحی عملیات شی یا په یوه خاص کور کی ځای په ځای شی نو دا ډیره مهمه ده چه ډاکتر ته ووایی چه تا د ای.اس.بی.ال تولیدوونکی باکتریاوی لرلی. په روغتیایی موسسو او خاصو کورونو کی دا ډیره مهمه ده چه حفظ الصحه او پاکول په دقیقه توګه مراعات شی تر څو باکتریاوی نورو کسانو ته سرایت ونکړی.